د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۵/شعبان المعظم /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۲۷ /دلو /۱۴۰۲هـ، ش

# په اسلام کې د نيک عمله او پر هيزگاره ښځو مرتبه او مقام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدُ لله الكبيرِ المتعالِ، صاحبِ العزِّ والكمالِ، والعظمةِ والجمالِ، والقدرةِ والجلالِ، المُنَزَّه عن النقصِ والزوالِ، المعبودِ عند الغدوِّ والآصالِ، ، الذي منح المرأة منزلةً و مكاناً ، وأشهد أنَّ سيدنا محمداً - صلى الله عليه وسلم - خير الخلق والرجال، ورفع عنا الإصر والأغلال، ثم أمَّا بعد.

قال الله سبحانه وتعالي :{يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً} النساء:(۱)

ښځه د اسلام څخه ترمخه ډيره ذليله او سپکه وه او د نړۍ په ټولو اديانو کې هيڅ ارزښت نه درلود، ښځه په يهوديت او نصرانيت کې سپکه او بې ارزښته وه، ښځه د يونانيانو او روميانو او فارسيانو په وړاندې هيڅ ارزښت او انساني کرامت نه درلود.

روميانو به ويل چې ښځه داسې مخلوق دی چې نفس نلري او اخروي ژوند هم نلري، ښځه گندگي ده په کارده چې غوښه هم ونه خوري او بايد له خندا او خبرو کولو څخه هم ځان وساتي. او په بودايي دين کې د هغه چا لپاره نجات نشته چې له ښځې سره اتصال لري، په يهوديت او نصرانيت کې ښځه د گناه مصدر او مرجع او لعنتي گڼل کيدله، په يهوديت او نصرانيت کې بي بي حواء ښځه وه چې د جنت ميوه يې وخوړله او آدم ته هم ورکړه چې وه يې خوري او ښځه ددې سبب شوه چې بني آدمان له جنت څخه را ښکته کړل شو. په يهوديت کې ښځه لکه د مال په څير خرڅول کيدله او اخيستل کيدله او په کرايه ورکول کيدله. په فارسيانو کې فريد مزدک به ويل چې ټول فسادونه د ښځې له لاسه کيږي؛ نو ځکه ښځه د ټولو خلکو په منځ کې لکه د ابو او اور په شان مشترکه ده او هر سړی کولی شي چې خپل حاجت ورڅخه پوره کړي او کله چې ښځه حائضه شي بايد له کوره وويستله شي او هر ډول تماس ورسره ناروا دی پرته له هغو خادمانو څخه چې خوراک او څښاک ورته وروړي. په يهودو کې به هم چې کله ښځه حائضه شوه له کوره بيرون به يې ورلره خيمه ودروله او رابطه به يې ورسره قطع کړه. داسلام څخه وړاندې ښځه په عربو کې هم لکه د مال او متاع حيثيت درلود او لکه د عامو حيواناتو په څير به يې ورسره معامله کوله، په جاهليت کې ښځه له ميراثه محرومه وه بلکې ښځه به په ميراث وړل کيدله او کله به چې پلار مړ شو د مړي مشر زوی به د خپل پلار ښځه(ميره) په نکاح کوله او يا به يې ترهغې ساتله ترڅو ښځه ورڅخه دمهر په ورکولو ځان خلاص کړي. په جاهليت کې به يوه ډله خلک د شپې په ښځه ور داخل او ټولو به ورسره په ډليزه توگه زنا وکړه او چې کله به ماشوم پيدا شو ښځې به ويل چې دا دفلانی زوی دی. په جاهليت کې به ښځه پهلوان شخص ته ددې لپاره ور ليږل کيدله ترڅو له هغه څخه په وجود قوي بچی راوړي.ځينو قبيلو به لوڼه له شرمه ژوندۍ ښخولی.

تر نن زمانی پورې هيڅ داسې دين او کړنلاره او قانون د پيريو او زمانو په اوږدوکې شتون نه لري چې نيکې ښځې ته يې داسې حق، عزت، درناوی او مقام او مرتبه ورکړې وي کوم چې د اسلام دين ورکړی ده ـ اسلام نيکو ښځوته د ژوند په ټولو اړخونو کې ځانگړې پاملرنه او توجه کړې ده او له هغه وخته چې دا د لور په توگه دنيا ته راغلې ده دې ته يې عزت او درناوی ورکړی او هغه څوک چې د دې نيکه پالنه او روزنه کوي د الله له لوري دخاص ثواب مستحق گرځي او که نيکه ښځه د ماندينی په توگه وي هم اسلام د دې په هکله د ښه چار چلند امر کړی او وايي چې حق يې پوره ورکړئ او د دوی په هکله يې خلک له ظلم او سپکوالي څخه منع کړي دي.

الله تعالی د قرآن په ډېرو آيتونو کې ښځه د نر سره ذکر کړې ده او دواړه يې په انساني کرامت او عملي اخلاقو کې برابر ګڼلې دي او د هريو لپاره يې داسې حقوق او دندې ټاکلې دي چې د دوی له طبيعت او فطرت سره سمون خوري .

## د نيک عمله او پرهيزګاره ښځې صفتونه:

الله تعالی د نيک عمله او پرهيزګارو ښـځو په نکاح ور کولو امر کړی دی. قوله تعالی : { وَأَنكِحُوا الأيَامَى مِنكُمْ وَالصَّـالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ).النور الآية ٣٢

ترجمه : او خپلې کونډې په نکاح ورکړئ او خپلو صالحو مرينانو ته خپلې وينزې په نکاح ورکړئ ، که هغوی بېوزله وي نو الله جل جلا له به هغوی په خپلې ښيګنې شتمن کړي الله جل جلا له بسيا کوونکی او پوهيدونکی دی .

د کور د مالک د پاره ښايي په لاندې شرايطو صالحه ښځه انتخاب کړي:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ). صحيح البخاري ت (١٢ /٥٧٥)

په پورته حديث شريف کې په ذات الدين صفت باندې تأکيد شوی ځکه که ښځه ديناره وي نو دينداري د ټولو غوره صفاتو بنسټ او اساس بلل کيږي ، هغه صفات چې په ديناره ښځه کې شامل وي ځينې يې په لاندې ډول دي :

١- سالمه عقيده : سالمه عقيده چې د اهل سنت و الجماعت موافق وي د ټولو ښو اعمالو بنسټ بلل کيږي او که د اهل ضلالت څخه وي نو هغه ذوات الدين يا ديناره نه بلل کيږي .

٢- د ميړه اطاعت : ديناره ښځه د خپل ميړه اطاعت کوي ځکه چې هغه د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د امر منونکي وي الله جل جلا له او رسول الله صلی الله عليه وسلم هغې ته د خپل خاوند د اطاعت کولو حکم کړی دی .

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ ؟ قَالَ : الَّتِي تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ ، وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ ، وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهَا بِمَا يَكْرَهُ). مسند أحمد (١٥ /٣٦٠)

ترجمه:ابی هريرة وايي رضي الله عنه :چا د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې کومه ښه ښځه ده ؟ وه يې فرمايل :هغه چې کله ور ته وګورې خوشـحاله شي، چې کله د څه امر ور ته وکړې اطاعت يې کوي ، او د ځان او مال په حصــه کې کوم چې خاوند يې نه خوښوي مخالفت نه کوي .

په بل حديث شريف کې راغلی : (الدُّنْيَا كُلُّهَا مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ ). رواه مسلم ١٤٦٨

دنيا ټوله متاع ده ، د دنيا غوره متاع صالحه او ديناره ښځه ده .

٣- د خير په کار کې د ميړه مدد کول :ديناره او نيك عمله ښځه د خپل خاوند د دين او ايمان مددګاره وي هغه ته په طاعت امر کوي او له بې دينۍ او محرماتو يې منع کوي .

په حديث شريف کي راغلي رسول الله صلی الله عليه وسلم عمر فاروق رضی الله عنه ته و فرمايل :ايا تا د غوره مال او کنز څخه خبر نه کړم چې يو څوک يې ذخيره کوي ؟ هغه غوره مال او دولت عبارت له : شاکره زړه ، ذاکره ژبه او مسلمانه ښځه (رواه الترمذي ٣٠٩٤).

۴- ديندراه ښځه نيکو کاره او صالحه وي : ديندراه بی بی د خپل رب فرمانبداره وي او کله چې ميړه مسافر وي هغه د خپل کور او آبرو حفاظت کوي او تر ټولو مهمه دا چې خپل اولاد ته اسلامې روزنه ورکوي .

الله تعالی فرمايلي دي: (فَالصَّالِحَاتُ : قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ). ( النساء: ٣٤)

نو نېکې ښځې امر منونکې دي او د (ميړو ) په غياب کې (د هغوی د شان او مال ) ساتنه کوي له همدې امله الله جل جلا له د هغوی (د حقونو پر ميړونو باندې ) ساتنه کړې ده .

په حديث شريف کې راځي: (عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : ( أَرْبَعٌ مِنَ اَلسعَادَةِ : الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ ، وَالْمَسْكَنُ أَلوَاسِعُ ، وَاَلجَارُ الصَّالِحُ ، وَالْمَرْكَبُ اَلهَنِيءُ ، وَأَرْبَع مِنَ اَلشَّقَاوَةِ : اَلْجَارُ السُّوءُ ، والمرأة اَلسُّوءُ ، وَالْمَسْكَنُ اَلضيقُ ، وَالْمَرْكَبُ السُّوءُ ) . صحيح ابن حبان (٩ /٣٤٠)

سعد بن ابی وقاص وايي : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : څلور د سعادت او نيکبختۍ څيزونه دي : صالحه او ديندراه ښځه ، پراخه استوګنځی ، صالح ګاونډی ،راحت او آسوده سورلۍ ، او څلور د بدبختۍ څيزونه دي : بد ګاونډی ، بده ښځه ، تنګ کور ، بده سورلۍ .

۵- ديندارې د جنت د دخول وسيله ده : ديندراه ښځه اطاعت کوونکې وي د خپل رب او خپل خاوند؛ داسې ښځه په ډېر اکرام او عزت جنت ته داخليږي هغې ته به ويل کيږي له کومې دروازې چې غواړې جنته داخله شه .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : (إِذَا صَلَّتْ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ). (رواه أحمد ١٦٦٤)

يعني : کله چې کومه ښځه پنځه وخته لمونځ وکړي ، د رمضان روژه ونيسي ، د آبرو حفاظت وکړي او د ميړه اطاعت وکړي ، هغې ته به ويل کيږي له کومې دروازې چې غواړې جنت ته ننوځه .

نو څرګنده شوه چې د ښځې ديندارې زيات اهميت لري ديندراه ښځه د دنيا او آخرت د نيکبختۍ سبب ګرځي .

## په اسلام کې د نيک عمله او پرهيزګاره ښځو د مرتبې او مقام بيلګې:

۱-اسلام نيک عمله او پرهيزګاره ښځو لره دومره لويه مرتبه او مقام ورکړی دی چې مکمل يو سورت يي د ښځو په نامه راليږلی دی(سورة النساء) چې په هغې کې د ښځو او د سړو د ميراث حکمونه بيان شوي دي چې په جاهليت کې ښځه د ميراث څخه محرومه وه.

۲-د نيک عمله او پرهيزګاره ښځو مقام او مرتبه ددې څخه په ډاګه معلوميږي چې په قرآن کريم کې د (امرأة) کلمه ۲۶ ځله او د (النساء) کلمه ۵۹ ځله تکرار شوی ده چې مجموعا (۸۵) ځله کيږي چې دا د ښځې د مقام او مرتبې لپاره واضحه دليل دی.

په ځانګړې توګه په قرآن کريم کې د دوو ښځو صفت بيان شوی دی چې يوه مريم عليها السلام ده او بله آسيا د فرعون ښځه.

( وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً لِلَّذِينَ آمَنُوا امْرَأَتَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتاً فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ . وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِنْ رُوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ)التحريم: (۱۲)

ترجمه: او الله د ايمان راوړونکو لپاره يو بل مثال بيانوي: د فرعون ښځه ده، کله چې هغې وويل: ای زما ربه! ته ما ته زما لپاره خپلې خوا کې په جنت کې يو کور جوړ کړه او ته ما له فرعون او د هغه له عمل نه خلاصه کړه او ته ما ته له ظالم قوم نه نجات راکړه او د عمران لور مريم ده، هغه چې د خپل شرم ځای حفاظت يې کړی و، پس مونږ له خپل روح نه په ده کې پوکی وواهه او دې د خپل رب د کلمو (خبرو) او د هغه د کتابونو تصديق کړی و او دا له حکم منونکو څنې وه.

۳-د اسلام سپیڅلي دین کې پرهیزګاره او نیک عمله ښځې لکه د سړو په شان د کامل انسانیت، درناوی او عزت څخه برخمنې دي او نیکه ښځه هم لکه د سړي په څیر د الله تعالی د حکمونو په اړه مکلفیت لري او که چیرې نیک او صالح عمل وکړي الله تعالی ورته اجر ورکوي او په دې برخه کې ښځه او سړی کوم توپیر نلري چې دا د الله تعالی له لورې د ښځې د مقام په اړه د اهتمام او ارزښت لوی دلیل دی. الله تعالی فرمایلي دي:(مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ). [النحل: ۹۷].

ترجمه: چا چې نېك عمل وكړ، سړى وي، یا كه ښځه، په داسې حال كې چې مومن وي، نو خامخا هرومرو به مونږ هغه ته ژوند وركړو، ډېر پاكېزه ژوند او خامخا هرومرو به مونږ هغوى ته د هغوى د اجر جزا وركړو د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل كې چې دوى به كول.

په یو اورد حدیث کې چې د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ( إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ). سنن أبی داود-ن (۱ /۹۵)

ترجمه: بیشکه ښځې هم د سړو په شان دي( په طبیعت کې) .

۴-الله تعالی په قرآن کریم کې د نیک عمله، صالحو او پرهیزګارو ښځو صفت کړی دی چې دا د هغوی د مقام او مرتبې لوی دلیل دی او فرمایلي یي دي: (إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا)[الأحزاب: ۳۵].

ترجمه: بېشكه مسلمانان او مسلمانانې او مومنان او مومنانې، او اطاعت كوونكي او اطاعت كوونكې او صادقان (رښتیني) او صادقانې او صبر كوونكي او صبر كوونكې اوعاجزي كوونكي او عاجزي كوونكې او خیرات كوونكي او خیرات كوونكې او روژه نیوونكي او روژه نیوونكې او د خپلو شرم ځایونو حفاظت كوونكي او حفاظت كوونكې او الله لره ډېر یادوونكي او یادوونكې، الله د دوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر تیار كړی دی

۵-په جاهلیت کې به پر ښځو هر ډول ظلم کیده چې د اسلام مبارک دین د هر ډول ظلم مخه ونیوله حتی که چیرې د ښځې او خاوند ترمنځ شخړه رامنځ ته شي او ښځه سرکشه شي نو الله تعالی فرمایي چې په دې صورت کې هم تاسو ظلم ورباندې مه کوئ. الله تعالی فرمایلي دي: ( الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ) .النساء: (۳٤)

ترجمه: سړي په ښځو باندې نګرانان دي په سبب د دې چې الله د دوی ځینې په ځینو نورو باندې غوره کړي دي او په سبب د دې چې دوی (سړي) له خپلو مالونو نه انفاق کوي، نو نېکې ښځې اطاعت کوونکې دي او د الله په ساتنې سره پسې شا (د ځان او مال) حفاظت کوونکې دي. او هغه ښځې چې تاسو د هغوی له نافرمانۍ نه وېرېږئ، نو دوی ته نصیحت وکړئ او د ملاستې په ځایونو کې ترې جدا شئ او ویې وهئ، نو که ستاسو خبره یې ومنله، نو (بیا) د دوی په خلاف بله لار مه لټوئ، بېشکه الله ډېر اوچت، ډېر لوی دی

که چیرې په دې مبارک آیت کې فکر وکړو نو وینو چې په کې ویل شوي دي چې د سرکشې ښځې سره هم په مهربانۍ او تدریج عمل وکړئ اول ورته نصیحت وکړئ، بیا ورڅخه د خوب ځای جدا کړئ، که چیرې په دې هم ونه شوه نو بیایي ووهئ خو په دې شرط چې سخت او ماتوونکی وهل نه وي ، دا د الله تعالی له لورې د ښځې د تکریم او عزت دلیل دی

٦-اسلام د ښځې سره د نیکې معاملې او غوره ژوند تیرولو امر کړی دی او فرمایي:(وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئاً وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْراً كَثِيراً).النساء: (۱۹)

ترجمه: او له دوی سره په ښه طریقه ګذران کوئ، نو که دوی ستاسو خوښې نه وي، نو کېدای شي چې تاسو به یو شی بد ګڼئ او الله به په هغه کې ډېر زیات خیر ایښی وي

په يو بل مبارک آيت کې راځي: ( وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ)البقرة: ۲۲۸

ترجمه: او د دستور مطابق د هغو (ښځو) لپاره (په خاوندانو باندې حقونه) دي په شان د هغو (حقونو) چې پر دغو (ښځو) باندې لازم دي (د خپلو خاوندانو لپاره)

تر ټولو ستر شخصيت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم به دايم د خپلو بيبيانو سره خوشحاله ژوند تيرولو او له خپلو بيبيانو سره به يې خوش اخلاقي کوله او پر هغوی به يې مهرباني کوله او له هغوی سره به يې خندا هم کوله؛ آن تردې چې د عائشې رضي الله عنها سره يې يو ځل په منډه کې مسابقه وکړه. ځيني وخت به يې خپلې بيبيانې يو کور ته راوغوښتلې او يو ځای به يې ډوډۍ وخوړه او بيا به هره يوه خپل کور ته ولاړه. تفسير ابن کثير(۲ /۲٤۲)

۷-اسلام ښځې ته دومره لويه مرتبه او مقام ورکړی دی چې څوک د ښځې عزت او ابرو ته سپک وگوري او د زنا نسبت ورته وکړي او خپل تهمت په قوي دلائلو ثابت نشي کړلی ، نو قذف ويونکی په اتيا درو وهل کيږي. الله تعالی فرمايلي دي: (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ).النـور: ٤.

ترجمه: او هغه کسان چې په پاکدامنو ښځو تهمت لگوي، بيا څلور گواهان رانه ولي، نو تاسو دوی اتيا دُرې ووهئ او هېڅکله هم د دوی گواهي مه قبلوئ او همدغه کسان فاسقان دي.

څوک چې پـه نيک عمله او پرهيزگاره ښـځو تهمت ولگوي په دنيا او آخرت کې به لعنتيان وي.الله تعالی فرمايلي دي:(إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ).النـور: ۲۳.

ترجمه: بېشکه هغه کسان چې په پاك لمنو، ناخبره مومنو ښځو باندې تهمت لگوي په دوی باندې په دنيا او اخرت کې لعنت کړی شوی دی او د دوی لپاره لوی عذاب دی.

۸- په جاهليت کې عربي جاهلانو خپلې لوڼه ژوندۍ ښخولی، الله تعالی ددوی دا کار حرام وگرځولو او د داسې کارونو والا ؤ ته به په قيامت کې سخته سزا ورکول کيږي. الله تعالی فرمايلي دي: ( وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ * بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ). التکوير:۷-۸

ترجمه: او کله چې ژوندۍ خښه کړی شوې جينۍ وپوښتی شي چې دا په کومې گناه وژل شوې ده

۹-د اسلام څخه مخکې به جاهلان د لور په پيدايش زيات خپه کيدل، خو د اسلام مبارک دين ددوی ددې کار قباحت بيان کړ او د لوڼو لويول د جهنم د اور څخه پرده ده په قيامت کې او دلوڼو لويول په قيامت کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د ملگرتيا سبب دی. ( وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالأُنثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ.يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلاَ سَاء مَا يَحْكُمُونَ) النحل:(۵۸-۵۹)

ترجمه: او کله چې په دوی کې يو ته د لور زيری ورکړی شي د هغه مخ تك تور شي، په دې حال کې چې له قهره ډك وي له خلقو څخه پټ گرځي د هغه څه د بدۍ په وجه چې ده ته يې زيری ورکړی شوی دی (او سوچ کوي چې)، ايا دی دغه (لور) سره له ذلته وساتي، يا هغه په خاورو کې ومنډي، خبردار شئ ! بد دي هغه څه چې دوی يې فيصله کوي

امام اندلسي ددې آيت په تفسير کې وايي: (ثم استقبح الله سوء فعلهم وحكمهم بهذا في بناتهم ورزق الجميع على الله انتهى. فعلق ألا ساء ما يحكمون بصنعهم في بناتهم). تفسير البحر المحيط(۴۱۲/۵)

بیا الله تعالی ددوی دا بدکار قبیحه وګڼلو او ددوی دا حکم یې قبیحه وګڼلو د لوڼو په هکله او د ټولو رزق په الله تعالی دی او وه ویل خبردار! ډیره بده فیصله ده چې دوی یې کوي د لوڼو په اړه.

په یو حدیث شریف کې راځي: (عن أنس - رضي الله عنه - ، عن النَّبيّ - صلى الله عليه وسلم - ، قَالَ :( مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ القِيَامَةِ أنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ . وضَمَّ أَصَابِعَهُ) . رواه مسلم .

ترجمه: چاچې دوه لوڼه تربیه کړی؛ ترڅو چې هغه بلوغ ته ورسیږي، داسې شخص او زه به د قیامت په ورځ په شان ددې ګوتو یو او خپلې ګوتې سره پیوسته کړلی. امام نووي رحمه الله (عال) جملې په شرح کې وایي:(قام عليهما بالمؤنة والتربية) چې دهغوی تربیه وکړي او اړتیاوې یې پوره کړي .شرح النووي على مسلم

په یو بل حدیث شریف کې راځي د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (...مَنْ يَلِي مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ شَيْئًا فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ) صحيح البخاري( ١٥ /١٦٩)

ترجمه: څوک چې سرپرستي وکړي ددې لوڼو د څه شي او نیکي وکړي له دوی سره ، وي به دا لوڼه پرده د اور (د جهنم).

په یو حدیث شریف کې راځي: (عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ، أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ، أَوْ بِنْتَانِ، أَوْ أُخْتَانِ فَأَحْسَنَ صُحْبَتَهُنَّ وَاتَّقَي اللهَ فِيهِنَّ فَلَهُ الْجَنَّةُ ). رواه الترمذي

ترجمه:له ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی وایي:رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:څوک چې درې لورګانې یا درې خورګانې ولري یا دوه لورګانې یا دوه خورګانې ولري او بیا د دوی سره ښه چارچلند وکړي او د دوی په هکله له الله نه وویریږي، نو هغه ته جنت دی .

١٠-داسلام څخه مخکې د جاهلیت په زمانه کې به خلکو وینزې په زنا کولو مجبورولی، د اسلام مبارک دین ددې څخه منع وکړه او وه یې فرمایل چې پیغلې په بدکارۍ او زنا مه مجبوروئ چې دا ښکاره د نیکو او پرهیزګاره ښځو په مقام او مرتبه دلالت کوي. الله تعالی فرمایي:(وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ).النور: ٣٣

ترجمه:او تاسو خپلې وینځې په زنا مه مجبوروئ، که دوی د ځان پاك ساتلو اراده لري، د دې لپاره چې تاسو د دنیایي ژوند سامان(او مال) طلب کړئ او څوك چې دوی مجبورې کړي،نو بېشکه الله(چې دی) په دوی باندې د(مالکانو له) زورنه پس ډېربخښونکی،بې حده مهربان دی

١١- داسلام مبارک دین د ښځې ذلیله کول حرام ګرځولي دي. په حدیث شریف کې راځي چې ښځه په مخ مه وهئ او ورته مه وایاست چې ته قبیحه یې. داځکه چې په دې سره ښځه د ذلت احساس کوي.

په حدیث شریف کې راځي: عن معاوية بن حيدة رضي الله عنه قال : قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ! مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟ قَالَ أَنْ تَطْعَمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ، وَلَاتَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلَا تُقَبِّحْ، وَلَا تَهْجُرْ إِلاَّ فِيْ الْبَيْتِ). رواه ابوداود و ابن ماجه

ترجمه: له معاویه بن حیده رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: ومې ویل ای د الله رسوله ! زموږ د یوې ښځې په میړه څه حق دی ؟ویې فرمایل : دا چې هغې ته خوراک ورکړې کله چې ته په خپله خوراک کوې او هغې ته جامه ورکړې کله چې ته په خپله جامې اغوندې او هغه په مخ ونه وهې او بدشکله یې نه کړې او له هغې نه بیلتون ونکړې مګر په کور کې.

۱۲-الله تعالی د ښځې درناوی کړی دی کله چې هغه مور وي. اولاد یې مور ته د اف ویلو څخه هم منع کړي دي. الله تعالی فرمايلي دي:(وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا).الاسراء: ۲۳

ترجمه: او حکم فرمايلی دی رب ستا چې عبادت مه کوئ تاسې، مګر یواځې هم ددغه( الله) او( احسان کوئ ) د والدینو سره په احسان کولو سره ، او که چیرې هرومرو ورسید تاڅخه( حدود) زوړوالي ته یو له دې دواړو یا دواړه ددوی، نو مه وایه ته دې دواړو ته ( کلمه د) اف ( هم ) او مه رټه دوی دواړه او وایه دواړو ته خبره پسته (ادب ناکه) او ښکته کړه دپاره ددې دواړو وزر( اوږه) د تواضع له مهربانۍ او وه وایه ای ربه زما مهرباني او ( ښښنه) وکړه دې دواړو ته لکه چې تربیه (پالنه) یې کړی ده زما په هغه حال کې چې زه صغیر وم.

امام قرطبي رحمه الله دې آیت په تفسیر کې وايې : الله تعالی په خپل عبادت باندې امر کړی دی او د مور او پلار سره نیکي کول یې د خپل حق سره پیوسته ذکر کړی دی .[ تفسیر القرطبي]

الله تعالی انسان د مور او پلار سره په نیکۍ مامور کړی دی. الله تعالی فرمايلي دي:(وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً وَبِالْوالِدَيْنِ إِحْساناً وَبِذِي الْقُرْبى وَالْيَتامى وَالْمَساكِينِ وَالْجارِ ذِي الْقُرْبى وَالْجارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ) النساء: (۳۶)

ترجمه: او عبادت کوئ تاسې د الله او مه شریکوئ تاسې له ده سره هیڅ شی او (نیکي کوئ) د مور او پلار سره په نیکی کولو او ( نیکي کوئ) له خاوندانو د خپلوۍ سره او (نیکي کوئ) یتیمانو سره او (نیکي کوئ) مسکینانو سره او (نیکي کوئ) همسایه ګانو سره چې غریب وي ( په نسب یا همسایګۍ کې) او ( نیکي کوئ له همسایه سره چې بعید وی( په نسب یا په همسایګۍ کې) او (نیکي کوئ) له هغه ملګري سره چې په څنګ کې وي او (نیکي کوئ) له مسافر سره.

۱۳-داسلام مبارک دین د نیک او غوره صحبت لپاره مستحق شخص مور ګرځولی ده چې دا د ښځې لپاره لویه مرتبه او مقام دی. :(عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : جَاءَ رَجُلٌ إلى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ : يارَسُولَ اللهِ ! مَن أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسنِ صَحَابَتِي ؟ قَالَ : أُمُّک. قَالَ :ثُمَّ مَن ؟ قَالَ ثُمَّ أُمُّک. قَالَ : ثُمَّ مَن ؟ قَالَ ثُمَّ أُمُّک. قَالَ : ثُمَّ مَن ؟ قَالَ ثُمَّ أَبُوکَ)متفق عليه.

ترجمه: له ابی هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وايي : یو تن نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل یا رسول الله ! څوک ډیر حقدار او وړ دی چې په ښه توګه ورسره ناسته پاسته وکړم ؟ ویې فرمایل : موردې . بیا یې وویل: له هغه وروسته څوک ؟ ویې فرمایل: موردې. بیایې وویل چې له هغې وروسته څوک ؟ ویې فرمایل: موردې، هغه سړي وویل بیا څوک ؟ ویې فرمایل: له هغه وروسته ستا پلار.

په یو بل حدیث شریف کې رازي:( عن عَبْد اللهِ بْن عَمْرو رضي الله عنه يَقُولُ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ أَحَيٌّ وَالِدَاكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ). صحيح البخاري

ترجمه: دعبدالله ابن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايې چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورڅخه یې د جهاد لپاره اجازه وغوښتله. پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل: آیا ژوندي دي مور او پلار ستا؟ هغه سړي وویل : بلی ژوندي دي.پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل : بس په هغوی دواړو کې جهاد وکړه یعنی دهغوی په خدمت کې کوښښ وکړه.

۱۴-داسلام مبارک دین ښځې ته درناوی او عزت کړی دی کله چې هغه دچا ښځه وي او داسلام مبارک دین د ښځو په اړه خاوندانو ته خاصه سپارښتنه کړی ده چې دا په اسلام کې د ښځو د لوړ مقام دلیل دی. په یو حدیث شریف کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: (فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ). صحيح مسلم (٤/ ٣٩)

ترجمه: وویریږئ دالله تعالی څخه دښځو په باره کې بیشکه تاسې اخیستي دي ښځې دالله تعالی په امان سره یعنې الله تعالی تاسې امین گرځولی یاستې په ښځو باندې) او تاسو حلال گرځولي دي ددوی شرمگاه لره په شریعت دالله تعالی سره.

په یو بل حدیث کې راځي: (عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ خُلُقًا). سنن الترمذی

ترجمه: د ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي کامل ترین شخص د ایمان له پلوه هغه څوک دی چې ښايسته وي اخلاق دده او غوره په تاسو کې هغه کس دی چې غوره وي خپلو ښځو لره په اخلاقو کې.

۱۶-په اسلام کې د ښځې مقام او مرتبه چې کله کونډه وي. په حدیث کې شریف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ الْقَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ). صحیح البخاري (۱۳ /۳۸۵)

ترجمه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی کوښښ کوونکی لپاره د مرستې د کونډې او مسکین په شان د مجاهد في سبیل الله دی او یا په شان د شپې د لمونځ کوونکي(تهجدکوونکي) او د ورځې روژه نیوونکي په شان دی.

۱۷-نیک عمله ښځه د خاوند لپاره د سکون او ارامش ځای دی. الله تعالی فرمايلي دي: (هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا) .الأعراف: ۱۸۹.

ترجمه: دی همغه ذات دی چې تاسو یې له یو ځان نه پیدا کړي يئ او له هغه نه یې د هغه جوړه پیدا کړه، د دې لپاره چې د هغې ترڅنگ ارام او سکون حاصل کړي،

۱۸-داسلام مبارک دین ښځې لره ټول هغه حقوق ورکړي دي چې د انسان ورته ضرورت وي لکه میراث، نفقه ، مسکن، کسوه او د خاوند په انتخاب کې اختیار کله چې بالغه وي او داسې نور حقوق چې تفصیل یې دلته نه ځايیږي.

۱۹-اسلام نیک عمله ښځه اهل د مشورې او اهل د نظر وگرځولی. همدا وجه ده چې نبي علیه السلام د خپلو بیبیانو نیکې مشورې اوریدلې او عمل یې ورباندې کولو لکه: ام سلمه رضي الله عنها مشوره چې د حدیبیې په ورځ یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړه ، هغه داسې چې د حدیبې په واقعه کې نبي علیه السلام صحابه وو ته امر وکړ چې د خپلو احرامونو څخه دې ځانونه وباسي او پرته له عمرې کولو دې مدینې منورې ته ستانه شئ درې ځله نبي علیه السلام دا امر تکرار کړ خو صحابه کرامو په دې امید چې د نبي علیه السلام په فیصله کې شاید تغیر راشي دا امر عملي نکړو.نبي علیه السلام د ام سلمه خواته راغی او ورته وویل داخلک څه کوي؟ ام سلمه رضي الله عنها ورته وویل: ای دالله رسوله! هیڅا ته څه مه وایه خپله هدیه حلاله کړه او حلق وکړه کله چې ته دا کار وکړې صحابه به هم داسې وکړي. نبي علیه السلام دام سلمه مشـــوره ومنله او خپله هدیه یې حلاله کړه او سر مبارک یې وخریلو ، صـــحابه کرامو هم شروع وکړه او خپلې هدایاوې یې حلاله کړلې او ځانونه یې احرام څخه وویستل.[الرحیق المختوم]

یا لکه أم المؤمنین عائشه رضي الله عنها چې یوه فقیه او د احادیثو حافظه وه په زیاتو مواردو کې یې د صحابه کرامو سره په فقهې او علمي مسائلو کې اختلاف نظر درلود.